دبچیانشاداماستعلی سالحییم
تابرمردم گواه باشید پیامبرصلی الله علیه وسلم برشماگواه باشد

(٤) صفحه

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (١٠٣٢) سال هژدهم - شماره (١١٨) سه شنبه (١٤)
قوس ١٣٧٤ هـ ش-(١٣) رجب المرجب ١٤١٦ هـ ق-(٥)دسمبر ١٩٩٥ م

دکابل اداری ځواکونوله طالبانوڅخه نوری ستراتیژیکی سیمی هم ونیولی

په چاراسیاب باندی دربانی دپلویانوپراخ بریددطالبانو له مقاومت سره مخامخ شو

دلیندي ١٣مه :
دنړيوالو خبري منابعو په قول دکابل ددفاعي چـارو دوزارت ویاند دطالبانو دنویو مورچودنیولو ادعا کړي ده .
دغه خبري منابع وایي چي کابل اداري ته وفادارو قواو دیکشنبي په شپه دکابل په جنوب ختیځ کي دطالبانوپه سنګرونو پراخ یرغل کړي اودیوي درندي جګړي وروسته ئي (٢٥٠) تنه طالبان دي ته اړایستل چي له سیمي څخه وتښتي .
ویاند ادعاکړي ده چي ددوي وفادارو قواو دطالبانوڅخه یـو شمیر لوړي او ستراتیژیکي سیمي نیولي اودشیرعلي دقلا کنترول ئي پـه خـپل لاس کي اخیستي دي .
دکابل اداري دادعوي تراوسه پوري کومي بي پري لوري ته ده تائید کړي .خوسیاسي کتونکي اوبڼځي کارپوهان وائي که چیري دکابل اداري ووروستي پرمختګ حقیقت ولري دابه دطالبانولپاره یوه بله لویه ماته وي .
څکه اوس دکابل اداري وفاداري قواوي کولای شي له دغو سیموڅخه په چهارآسیاب کي دمیشتوطالبانوداکمال دمهمي لاري په خوایه اسانی پرمختګ وکړي .
له بلي خوا طالبانو دعوه کړي ده چي ددوي ځواکونو په چهارآسیاب باندي دکابل اداري دپلوي قـواو یو لویي برید په شاه تمبولي دي او دهغوي ګڼ شمیر پلویان ئي وژلي دي، خوتراوسه پوري دطالبانو او کابـل اداري دغه ووروستي دعوي دبی پري منابعوڅخوانه دي تائید شوي .

چارافغان مقیم اسلام آباد ازپاکستان اخراج شد

اسلام آباد - ١٣ قوس :
دیروز چارنفر افغان باشنده اسلام آباد ازپاکستان اخراج شد .
قرارګزارش منابع خبري بین المللي این چارتن تحت الحفظ ذریعه یك موتر به طورخم رسانده شدبعداز آن ازپاکستان اخراج شد .
درګزارش آمده است که نیروي امنیتي حکومت پاکستان بنابه دستور حکومت مرکزي آنکشور ازمدتي به اینطرف به تلاشي خانه هاي افغان ها نیز مبادرت ورزیده اندکه درنتیجه تعداد زیاد مردم ازاسلام آباد به پشـاور ، پندي وسایر شهرهارفته اند .
قابل یاد آوریست کـه انفجارات چندماه اخیر درپاکستـان و تیره شدن روابط پاکستان واداره کابل عامل مهم این اقدامات ازجانب حکومت پاکستان میباشد .

چین خواستار قیودات براحزاب مذهبي پاکستان شد

پشاور - ١٣ عقرب :
جنرال اعجاز احمد چوهدري معاون سکرتریت جماعت اسلامي پاکستان مطالبه حکومت چین رادرمورد وضع قیوداتي علیه جماعت اسلامي ردنموده وآنراناقابل فهم خوانده است .
درګزارشي که در روزنامه جنګ آمده است ازقول جنرال اعجاز احمد ګفته شده که جماعت اسلامي درایالت سنکیانګ چین هیچ نوع مداخله مسلحانه نه نموده واضافه کرده است که جماعت اسلامي چین راکشوردوست وهمسایه مي پندارد . اینکه چین روزتاروز ازپاکستان دورشده میرود دال بربي کفایتي حکومت است وحکومت موجوده باپخش ونشر چنین خبرها دخالت روزافزون امریکارادرپاکستان پنهان میسازد .
همچنان دراین ګزارش آمده است که رهبر سایر احـزاب مذهبي پاکستان
ص(٤)

دخوست په هوایی ډګر درغونی کار په چټکی سره روان دی

دغه هوایی ډګر به په نږدی ورځو کی دالوتنو لپاره پرانستل شی

خوست - دلیندي ١٣ مه :
دخوست څخه دترلاسه شوي خبرپه اساس دغه ولایت په هوائي ډګر بشپړه کارپه چټکي سره جریان لري، چي ممکن په نږدي ورځوکي دهوائي الوتنوله پاره پرانستل شي .
دخوست پوځسترلي منبع شهادت ته
(٤)مخ

دپاکستان مهمو ادارو خپل حکومت ته په افغان سیاست کی دتجدید نظرمشوره ورکړی ده

دطالبانو راتلونکی ډیره روښانه نه برېښی ،هغوی له اوضاع اوقضایاوو سره د سم چلن کفایت ونه بُود

ځینی طاقتونه پاکستان په افغانستان کی یوه دلدل ته ورټیله کوی

لومړی ځل دی چی پاکستان په خپل افغان - سیاست کی یواځی پاتی دی

له کابل اداری سره دی دکړکیچ د راکمولو په مناسبه لارغور وشی

اوسنی وضع دپاکستان اوایران رقابت زیاتمنوونکی پراوته رسولای شی

اسلام آباد - دلیندي ١٣ مه :
یوي ډېري باوري منبع پرون دشهادت ځانګړي خبریال ته وویل چي دپاکستان دوومهموادارو خپل حکومت ته په دي ورمخوګړ دانوي مشوره ورکړي چي باید دافغانستان په باب په خپل سیاست کي ژورتجدیدنظر وکړي اوداومني چي اوسني وضع اوشرایط ئي په هیڅ توګه په ګټه نه دي. منبع زیاته کړه چي دي مهمواستخباراتي ادارو حکومت ته ویلي چي دافغانستان اوسني وضعه داواري په لوري ته بلکي دیوي داسي بلي جګړي په خواروانه ده چي پاکستان به پکي ملوث ګڼل کیږي اوپه دي علاوه داچي طبیعي نتیجه به ئي دپاکستان دګټواوسیمي داستقرار لپاره ناوړه وي .
منبع وویل چي دنوموړو، ادارو په مشورتي رپوټ کي ویل شوي چي دطالبانو راتلونکي روښانه نه برېښي اوهغوي ونکړای شواي چي دشوچانسونو دبرابرېدو باوجودهم دبحران دحل په لارکي ګام پورته کړاي شي، طالبانوله اوضاع اوقضایاوو سره دسم اومناسب چلن کولو کفایت ونښودلاي شواوحالات تري خرابېږي ، په دي سپارښتي رپوټ کي زیاته شوي چي که دافغانستان په وضع کي بدلون رانشي، هلته پوځل بیا دقومي اونژادي سیاست بازارپه تودېدو دي اوپه همدي بنیاد به داهیواد دنامعلومي مودي لپاره دجګړوګروي اوداهغه څه دي چي دپاکستان په ملي امنیت اوملي ګټوباندي په هیڅ ډول بي تاثیره نشي پاتي کېدای
منبع څرګنده کړه په رپوټ کي واضح شوي چي ځیني نړیوال طاقتونه هڅه کوي، پاکستان په افغانستان کي یودلدل ته ورټیله کړي اوکه تجدیدنظرونشي ددي طاقتونوشیطاني هیله به خامخاپوره کیږي - په رپوټ کي لیکل شوي چي په تیره تقریباً یوه نیمه لسیزه کي دالومړي ځل دي چي پاکستان دافغانستان په باب په خپل سیاست کي یواځي پاتي کیږي .
منبع زیاته کړه چي پاکستان باید یوي مهمي موضوع ته جدي پاملرنه وکړي اوهغه داده چي هغه محبوبیت چي په تیره یوه نیمه لسیزه کي ئي دافغان ولس په ذهنیتونوکي ګټلی، له لاسه ورنکړي اوداسي دریځ ونه نیسي چي خپل نیتونه اونقش دافغانانوپه اذهانوکي داغدارکړي .
(٤)مخ

یك طیاره مسافربري درکامرون سقوط کرد

کامرون - ١٣ قوس :
یك طیاره مسـافربري درجنوب کامرون سقوط کردکه موجب کشته شدن شصت نفر ومجروح شدن هفتادوچارنفرګردید .
مطابق ګزارش رسانه هاي خبري بین المللي این طیاره بوئنګ (٧٣٧) متعلق به شرکت هواپیمایي کامرون بودکه وازویئن به پرواز درآمده و روزیکشنبه ګذشته درجنوب آنکشورسقوط کرد،ګفته شده که پنج تن ازاین حادثه جان به سلامت برده اند .
علت اصلي این سانحه تاحال معلوم نیست امالحقیقات جریان دارد .

د«فتح» دغونډ قوماندان اودلوګرولایت دجهاد پخواني امیر سید رحمن « واحدیار» :

دلوګرولایت ګڼ شمیرعلماوقومی مشران کوټي ته مهاجرشوی دی

ملاجیلانی مشهوریه حاجی ملا د سیمی له خلکو سره سپکه وضع کوی

دلوګرولایت ګڼ شمیر علماوقومي مشران چي دطالبانوله خوادي ته اړشول چي خپلي پلرني سیمي ووروسته له هغه چي له روسانو اوکمونستانوڅخه یي نیولي وي بیا پرېږدي اودهجرت لارغوره کړي .
دلوګرولایت دجهاد پخواني امیر اودالفتح دفرقي قوماندان سیدرحمن واحدیار چي په دي ووروستیو شپو ورځوکي دلوګر ددغو مهاجرینو لیدنو کتنوته ورغلي وایي دغومهاجرو هیوادوالو مونږته خپل دردونه اوستونزي بیان کړي زیاته یي کړه چي دلوګرولایت ترزرو زیات مخور علماوسپین ږیري اوس کوټي ته مهاجرشویدي.
دلوګرولایت دغومهاجرینو ویلي چي مونږدطالبانو راتګ ته هرکلي ووایه خوهغه زمونږپرسرراماتت شول . طالبانو سملاسي زمونږدکورونو تالاشي پیل کړه جهادي اوپلرني وسله یي راڅخه یوړه زمونږ اوزمونږ دمشرانو په وهلوټکولو یي پیل وکړاوپه دي توګه زمونږهیله اوهرکلي په ناهیلي اومایوسي بدل شو اودي ته اړشو چي یوځل بیا دهجرت دګردپاکستان
(٤)مخ

دبلغ ولایت دحرکت انقلاب اسلامی دوه تنه مشهور قوماندانان دحزب اسلامی له ځواکونوسره یوځای شول

دلیندي ١٣ مه :
دبلغ ولایت څخه دحزب اسلامي دعمومي قوماندانانو فرهنګي مسئول دیومخابروي تماس پـه ترڅ کي دشهادت خبریال ته وویل :
په دي ووروستیو ورځوکي دبلغ ولایت دچاربولك ولسـوالي دحرکت انقلاب اسلامي عمومي قوماندان استاد اسدخان «حیدري» دخـپلو ټولو سـرګروپانو، مجاهدینو، متحدینو او وسلـه والو ځواکونوسره یوځاي دنوموړي ولایت دحزب اسلامي افغانستان دعمومي قوماندانانو سره خپل پیوستون اعلان کړ .
په همدي ډول دبلغ ولایت دچمتال ولسوالي دحرکت انقلاب اسلامي عمومي قوماندان محمدکریم خان مشهوربه «کریم باي» دخپلي جبهي لـه قوماندانانو اومجاهدینوسره دحزب اسـلامي سره خپل پیوستون اعلان کړي دي .
منبع زیاتوي : دحرکت انقلاب اسلامي ددغو دواړو جبهو قوماندانانو اومجاهدینودجهاد پـه اوږدوکي د حزب اسلامي دمجاهدینوسره تـودي اړیکي درلودي اودګهو پلانونو پـه عملي کولو کي ئي یودبل سره مرستي کړي دي .
دنوموړیو جبهو له مسئولینو سره دبلغ ولایت دحزب اسـلامي دوسله والو ځواکونوعمومي قوماندان ډګرجنرال جمعه خان «همدرد» داسلامي اوتنظیمي مسئولیت پربنا دوروري په فضا کي اوږدي خبري وکړي، اوهغوي ئي خپلوراتلونکو مسئولیتونوته متوجه کړل، اوپه هغه عسـکري فرقه کي چي دحزب اسلامي لخوا په هغه ولایت کي اوس جوړه شوي ده ،هغوي ته دندي اومسئولیتونه ورسپارلي دي .

قصرریاست جمهوری کابل دچارآتش سوزی شد

کابل - ١٣ قوس :
دیروز صبح قصرریاست جمهوري یعني محل کارریاتي رئیس اداره کابل دچارحریق شد وآتش سوزي بزرګي درآن رخ داد .
قرارګزارش منابع نزدیك به اداره کابل این آتش سـوزي درقسمت شرقي قصردرمنازل رهایشي محافظین داخل قصر صبحګاهان ساعت چهارونیم بجه رخ داد والي ساعت دونیم بجه ادامه داشت .
امارادیوتهران ضمن نشراین خبربه نقل قول ازمنابع وزارت دفاع اداره کابل ګفته است که این آتش سوزي نتیجه ریختن تیل بالاي بخاري بود وخسارات جزئي ببارآورده است .

اینچون - کوریاي جنوبي : پس از آنکه جسد یك دستفروش درشهر ساحلي اینچون کشف ګردید ، حدود یك هزار تن از دستفروشان شهر دست به تظاهرات خیاباني زدند، عکس فوق صحنهٔ از درګیري دستفروشان را با قواي امنیتي شهر نشا میدهد

دنورومخالفینوله ائتلاف پرته ، طالبان کابل ته نشی ننوتلای

دکابل اداری په کنترول کی کابل اوڅومحدودولایتونه دی

افغان مهاجرین به په زوردهیوادستنیدوته اړنه شی

پیښور - دلیندي - ١٣ مه :
دپاکستان دسرحدي ایالت وزیراعلي آفتاب احمد خان «شیرپاو» دیوي میلمستیا په ترڅ کي دافغان بحران په اړه بولږخرګندوني کړي دي .
شیرپاو دخپلو خبروپه ترڅ کي ویلي دي : ترڅوپوري چي طالبان دربانی داداري له مخالفینوسره ائتلاف ونکړي په بوازېتوب سره نشي کولاي درباني اداره نسکوره کړي .
نوموړي زیاته کړي : که چیري دافغان بحران «سیاسي حل لاره ونه لټول شي ددي ډیري امکان شته چي افغانستان ووېشل شي، چي بیا له شکه به دافغانستان ویش په پاکستان ناوړه اغیزه وکړي.
شیرپاو دربانی داداري په اړوند ویلي دي : درباني اداره بوازي په کابل او څونورو محدودولایتونوپوري تړلي ده اودافغانستـان زیاته برخه درباني داداري دمخالفینو په کنترول کي ده .
هغه دملګروملتونو داستازي هڅي ستایلي زیاته کړي ئي ده دملګروملتونو لخوانه دافغان بحران دهواري لپاره دیوي منظمي فارمولي ویستل پکاردي اونور بیلابیل هیوادونه دي هم دخپل حیثیت
(٤)مخ

درسراسرجهان :

(١٥)ملیون انسان به "ایدز" مبتلا هستند

لندن - ١٢ قوس :
درجلسه سالیانه جلوګیري ازمرض مهلك «ایدز» که درلندن دایرشد از مجامع بین المللي خواسته شد تابراي ازمیان بردن عوامل آن هرچه سریع تر اقدام نمایند :
به ګزارش خبرګزاري رویتر یك پروفیسر انګلیسي درمورد مي ګوید : درحال حاضربیش از (١٥) ملیون نفر درسراسرجهان بخصوص کشورهاي غربي به این مرض ساري ومهلك مبتلا بوده وشش ملیون نفر دیګر درخطرجدي مرګ ناشي ازمکروب مرض مذکور قراردارند .
وي درصورت عدم جلوګیري مرض ایدز مي ګویدکه درسال هاي آینده درحدود ٤٠ - ٣٠ ملیون نفر درجهان به مرض ایدز مبتلا خواهند شد .
این پروفیسر مي افزاید؛ کسانیکه به
ص(٤)

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
موسس: انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر : محمد نذیر «بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون : ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

یو فکري انحطاط ، یوه ذهني ناروغي

زموږتولنه هم له هغوټولنوڅخه ده چي منطق اوعلم پکي احساساتو، اوجذباتولاندي کړي ، دېرڅه پکي حاکم موجونه تاکي، دتحقیق، تدبیراوتعمق عناصرپکي په ژبو خواږي رااوړي خو عملي مفهوم اومعني ئي البته له نشت سره برابره ده .

دزیاتومسایلو سرنوشت په حوادثو پوري تړلي وي، دولس دسرنوشت ډیر بنیادي موضوعات دپیسو دبهیر رحم اوکرم ټاکي ،نظرئي، شعارونه ، اورجحانونه پکي په میاشت اوکال کي رنګ بدلوي، ددریځونو، وفاوو اوهدفونوژوند ئي لنډوي اولکه دکال «دفصلونوله بدلون سره چي جامي بدلیږي . « پرنسیپونه » او « اقدار » پکي دزماني دڅپو دټیټیدو اوهسکیدوپه وړاندي بوبه بل پسي مورچي پریږدي .

دکمونستانواوروسانودهجوم له پیل سره دوجهاد» دروندتوم په واقعي مفهوم زموږپه ټولنه کي په حقیقي مفهوم دیوه مقدس « ارزښ » په توګه درك شو .

دکمونستانو په وړاندي «جهاد » دالله (ج) دحکم په توګه زموږملت دخپلي اساسي عقیدي دیوه جزپه توګه وملانځه ،استقبال ئي کړ او دوینو دسیندتوبهیدوپه عزم ئي ورته دعمل ملاوتړله .

زموږدګران اوصادق ملت میلان له ټولو ملاحظولوړدي، له ټولو شکونو پاك دي، هیڅ تأویل ورته لارنښي موندلي ، واقعاً ئي دیوه الهي حکم په حیث «جهاد » ته ملاوتړله اوواقعاً اوس هم دوجهاد » په قداست اوعظمت وياړي . که څه دي، که ژاړي، که دحسرت لاسونه ټکوي ، که په سرخاوري بادوي اوکه ئي له زړه وینې څاڅي ، په دي چي دهماغه مقدس «جهاد» ،هماغه عظیم الشان «جهاد» اوهماغه دشوکت اوعظمت دوجهاد» دبدنامي لوبه ئي روانه ده ، دهغه نتیجي دبربادي جنایت ئي کیږي او دهغه دوترور» او دهغه دسوغاتونو دولوټ» اووقتل عام» فاجعه ئي روانه ده ، نوروجهاد» ورته هماغسي دروند اومقدس دي اوهماغسي ورته دپړم، حیا ، نجات اوعظمت رازدي لکه چي پرون و ورته . مګر یوشمیرکسان چي ځانونو ته «روشنفکران » وائي، په یوه خطرناك ذهني رنځ اخته دي ، او په یوه فکري انحطاط مبتلادي .

په دوي کي یوشمیر داسي دي چي دوجهاد» تربیل دمخه ئي «جهاد » خوپرېږده په مجموع کي له اسلام سره هم نه لګیده ،خوچي جهاد شروع شو اواوج ته ورسید، بوله شورااوخوځښه ډك ملي، غورځنګ شو، حاکم مرج شو، له یوه عظیم نړیوال سیاسي اعتبارنه برخمن شو، دعزت اوغلبي نوم شو، اودنړي په زیاته برخه کي دوامتیاز» اوو مراعات» یوسندشو، نوبیا جوبي، جوبي په دي کاروان ورګډیدل ، ډیري بي پرېښودي ، نظرئي ئي واړولي ،شکراني به ئي کولي چي خداي له جهالت نه وژغورل ، اوس په ژوند پوه شول ، له تیاري نه راووتل، له ناوړه دوبیدونه بچ شول او ....

خوچي اوضاع بل ډول شوه ، نواوس ځانونه کفرته باسي اوددي په ځاي چي داشخاصو اواحزابو اشتباه ګانواو نارواووته ګوته ونیسي، مقدس شعارونه په استهزا یادوي اوعقاید توهینوي دایو ناوړه اخلاقي اوذهني سقوط دي چي متأسفانه داډله خلك وربانډي اخته دي .

بل شمیر هغه کسان دي چي هغوي دوجهاد» تربیل دمخه هم نظریاتي انحراف نه درلود . «جهاد» ئي هم په اخلاص وکړ، خوبیلابیلو عواملوپه دي بدمرغي اخته کړي چي دوي هم دافرادو اواحزابو کمزورتیاوي اوانحرافونو دوجهاد» په « اصل » او «مفهوم» وراچوي، اوپه ډېره بي مسئولیتي وائي چي : ګویاوجهاد» یوه دوکه وه ، داخبري له عملي ژوند سره ناآشنادي، اوهسي وربانډي دخپل عمر برباد ول نه دي پکار ، بوسنیا یان هم بنه نه کوي، دشیشان خلك هم اشتباه کوي ، کشمیریان هم غولیدلي او ....»

ددي کسانوحالت ډېردتأسف وړدي ، هغوي تصورکوي چي په اصطلاح د« آزادخیالي» مظاهره کوي، مګرداسي نه ده دوي خپله ډېره ناوړه بي ظرفیتي ، بداخلاقي ، زوال اوله بدبختي نه دډك ذهني رنځ ثبوت وړاندي کوي . دوي باید نه پواحي په دي وته ویاړي بلکي جداً دي دخپلي تداوي په سوچ کي شي .

دهماهنگی شورا او دجبهۀ نجات ملی دریځ

مبصر

دقوس په شپږمه دملي نجات جبهي لخوا یو پخپله دحضرت صاحب مجددي لخوا اعلان وشو چي دځینو ځرګندودلایلو له مخي نورنه توانیږي چي دهماهنګي په عالي شورا کي خپل غړیتوب حفظ کړي . په دي اساس له پورته یادي شوي نیټي وروسته دملي نجات جبهـه نوره د هماهنګي دشورې غړیتوب نلري اونه پخپله حضرت صاحب ددغه شورې ریاست په غاړه لري .

دملي نجات دجبهي ددغه اعلامیي سملستي وروسته د هماهنګي دعالي شورا پاته دري تنظیمونو، حزب اسلامي افغانستان، جنبش ملي اسلامي ، اوحزب وحدت اسلامي تصمیم ونیو چي دملي نجات دجبهي دمسئولینوسره دخبرو میزته کښیني او دهغوي دشکایاتوپه رفع کولو کي کاروکړي . ځکه ددغه تنظیم څخه چي دهماهنګي دشورې په جوړښت کي ئي ډیرمهم رول درلود داتوقع نه کیدله چي دخپلو لاسوډري کلن زحمات په یوه ساعت کي پرته له کوم قوي استدلال څخه له منځه یوسي .

دملي نجات جبهي په یوه وخت کي دوه سترتصمیمونه ونیول ،لمړي داچي پروفیسورمجددي چـي ددي شورا درئیس په توګـه ټاکل شوي خپله استعفي اعلان کړه، بل داچي دغه

> د پروفیسورمجددی صیب اودهغه دتنظیم غوښتنه داده چی دهمآهنګی شورا چی دطالبانو سره دراتلونکی سیاسی نظام دجوړښت په هکله کوم توافقات کړی ، هغه ورته دمنلو وړ نه دی .
> ځکه چی په دی توافقاتو کی طالبانو ته دهغوی دحق څخه ډېرڅه وررکړل شوی دی . دملی نجات دجبهی اصرار دادی چی دهمآهنګی شورا باید دطالبانو سره خپل توافقات بیرته واخلی .
> اوپاداچی طالبانو ته په راتلونکی نظام کی داولیت حق ورنکړل شی اوداحق دهمآهنګی شورا او دهغی دریاست په حق کی محفوظ پاته شی .

تنظیـم ئي د هماهنګي دشورا دلیکو څخه وویست .

که څه هم دملي نجات دجبهي په غیررسمي اعلامیـه کي چي دنړي دمطبوعاتو لخواخپره شوه په پاته دري تنظیمونو اوپه ځانګړي توګه پـه حزب اسلامي افغانستان باندي اتهام لګیدلي وُچي هغوي درباني دغیري مشروع اداري سره پـه ځانګړي توګه دجبهي دغړو دشوري پرته تماسونه نیولي خو اصلي حقیقت دغسي نه دي، اصلاً دغه اعلان دملي نجـات دجبهي دځینو داسي مسئولینولخواشوي وُچي هغوي دهماغه لمړيو وختوڅخه دهماهنګي په شوراکي دجبهي په غړیتوب راضي نه وُ. او په دي دوران کي ئي هم په هیڅ ځاي کي دهماهنګي دشورا په ګټه کومه خبرنه ده کړي اونه ئي په غونډوکي شریك شوي .

پخپله داکترحشمت الله مجددي چي دحضرت صیب په غیاب کي دملي نجات دجبهي سرپرستي په غـاړه لري او دهماهنګي دشورا دمؤسسینو غړوڅخه یوفعال اومؤثر غړي دي، دملي نجات دجبهي په دغه عاجل تصمیم خوس نه ښکاري . او هغه استدلال چي په لمړي ورځ دجبهي دځینو غړولخوا دهماهنګي دشورا دلیکوڅخه دجبهي دویستلو په هکله شوي نادرسته ګڼي . په همدي ترتیب دجبهي داجرائیه شورا غړي هم په دغه تصمیم راضي نه ښکاري .

دهماهنګي دعالي شورا پاته دري تنظیمونه اوس هم هڅـه کوي محترم حضرت صاحب په دي قانع کړي چي خپل اعلان بیرتـه واخلي او دهماهنګي د شورا لیکوتـه بیرته راشي ، خـو هغه ستونزي چي دمجددي صاحب له اړخه په ګوته کیږي وپاهغه په دواړو اړخونوته دامکن کړي چي دهماهنګي عالي شوري غړي تنظیمونه هغه قبول کړي اوپامحترم مجددي صیب په هغي سترګي پټي کړي اوتري تیرشي اوخپله اعلان شوي استعفي بیرته واخلي . دحالاتو مبصرین په دي هکله شك کوي اووائي چي که دمحترم مجددي صیب خبروته پوره غور کیښودل شي اوونه منل شي نودابه دهماهنګي دشورا صفونوته دهغوي دبیرته راتګ امکانات کم کړي .

دهماهنګي دشـورا او ملي نجات دجبهي ترمنځ داختلاف مسئله هغه څه نه دي چي دملي نجـات دجبهي لخوااعلان شوي بلکه داهغه نقاط دي چي اصلاً تراوسه پوري بهرته نه دي راوتلي .

تقریباً دشپږو میاشتو را پدیخوا دهماهنګي دشـورا دغړو تنظیمونو اوطالبانوترمنځ پـه کابل کي دیوه مشترکه نظام دجوړښت لـه پاره خبري اتري رواني دي . پـه دغـه خبرو اتروکي دملي نجات جبهي غړو تریوه وخته ګډون نه درلود. خو دخبرودجریان څخه په تفصیلي توګه دهماهنګي دشورا په غونډو کي خبرېدل او دراتلونکي پـه هکله په ګډه تصمیم نیول کیده ددغـه دواړو اړخونو ترمنځ دخبرواوږو دوالي ځیني مبصرین په دي فکرکي کړل چي ممکن داخبري کومه نتیجه ورنکړي . دغـه د طالبانو دغورځنګ دنطاقـانو دپرلپسي بیانونو په واسطه نوره هم قوي کیده . ځکه دطالبانو مسئولین تراوسه پوري په دي اقرارنه کوي چي دهماهنګي دشورا سره کومه خاصه ناسته لري اوپاپه دي هکله ئي کومه پریکړه کړي .

وحقیقت دادي چـي د هماهنګي دشوري ، طالبانو دغورځنـګ او دتنګرهار دجهادي شـورا ترمنځ څه موده پخوا دکابل درژیم په خلاف دګډو نظامي عملیاتو له پاره څه توافقات شوي اولاسلیك شوي هم دي په دي هکله دطالبانو دغورځنګ تقاضا داده چي باید مشترك نظامي عملیات په عاجله توګه پیل شي ترڅو دکابل رژیم رانسکـور کـړي خـو دهماهنګي عالي شورا که څه هم دمشترکو نظامي عملیاتوله پاره پوره تیاري لري نه غواړي چي په داسي یوه ګونګ جنګ کي برخه واخلي چي راتلونکي ئي هم روښانه نه وي اودبلي خوانه ئي حلیف تنظیم (طالبانوتنظیم) پـه موجودیت هم اقرارنکوي بلکه برعکس دټولو جهادي تنظیمونو دخلع سلاح کولو خبره تکراروي اوټول تنظیمونه په یوه کوټك وهي . دهاهنګي شوري موقف دادي چي دنظامي مشترکو عملیاتوپیل کیدو څخه دمخه دي په یوه مشترك سیاسي نظام توافق وشي ، هغه دي اعلان شي ، اوبیا دي نظامي ګډ عملیات پیل شي .

دغـه مشـترك سیاسي نظام باید یاخودبي طرفه مسلمانووګړو څخه جوړ شوي وي اویابیا دهماهنګي د شورا دغړوتنظیمونو ، طالبانواوننګرهارشورا په ګډون منځ ته راشي . خودهرتنظیم حقوق په کي په نظرکي نیول شوي اووریه ګوته شوي وي .

دطالبانو شورا ددغه نظر مخالفت کاوه او تردیره وخته ئي دغـه نورتنظیمونه مصروف ساتل ، پخپله ئي دکابل دسوبي نیت په تنهائي سره کـړي ؤ . خو په هرصورت کله چي طالبانو درك کړه چي نه خوبه تنهائي دکابل نیول دهغوي راتلونکي تضمینوي اونه ئي ورته سویه آسانه ده نوبه هڅي اساس ئي دهماهنګي دعالي شورا غوښتني ته مثبت ځـواب ورواپه او دراتلونکي سیاسي نظام په هکله ئي هم څه توافقات وکړل . او پریکړه وشوه چي دغه پریکړه په همدغه هفته کي اعلان کړي (چي ممکن ددي ټکوترلیکلو پوري اعلان شوي وي اویا اعلان شي

> حقیقت دادی چی دهمآهنګی دشورا ، طالبانو دغورځنګ اودننګرهار دجهادی شورا ترمنځ څه موده پخوا دکابل دزیم پرخلاف دګډو نظامی عملیاتو له پاره څه توافقات شوی او لاسلیك شوی هم دی . په دی هکله دطالبانو دغورځنګ تقاضاداده چی باید مشترك نظامی عملیات په عاجله توګه پیل شی . خودهمآهنګی عالی شورا که څه هم دمشترکو نظامی عملیاتو له پاره پوره تیاری لری مګر نه غواړی چی په داسی یوه ګونګ جنګ کی برخه واخلی چی راتلونکی یی هم روښانه نه وی اودبلی خوا نه یی حلیف تنظیم (د طالبانو غورځنګ) په موجودیت هم اقرار نه کوی بلکی برعکس دټولو جهادی تنظیمونو دخلع سلاح کولو خبره تکراروی اوټول تنظیمونه په یوه کوټك وهی . دهمآهنګی دشورا موقف دادی چی دنظامی مشترکو عملیاتو دپیل کیدو څخه دمخه دی په یوه مشترکا سیاسی نظام توافق وشی ، هغه دی اعلان شی اوبیا دی نظامی ګډ عملیات پیل شی .

).خوددي اعلان ترمخه دمشترکو نظامي عملیاتو دپیل کیدو شرط موجودؤ . داسي بریښي چي دهماهنګي عالي شورا په دغه ټاکلي وخت کي دځینو دلایلو دنشتوالي په اساس ګډعملیات پیل نکړاي شي . طبعاً داکاربه دسیاسي توافقاتو په اعلان هم اثروکړي .

پروفیسور مجـددي صیب اودهغه دتنظیم غوښتنه داده چي دهماهنګي شورا چي دطالبانو سره دراتلونکي سیاسي نظام دجوړښت په هکله کوم توافقات کړي ، هغه ورته دمنلو وړنه دي .

ځکه په هغي توافقاتوکي طالبانوته دهغوي دحق څخه ډیرڅه وررکړل شوي . دملي نجات دجبهي دمسئولینو اصرار دادي چي د هماهنګي شـورا باید دطالبانو دغورځنګ سره خپل توافقات بیرته واخـلي اویا داچي لااقل طالبانوته پـه راتلونکي نظام کي داولیت حق ورنکړل شي . اوداحق دهماهنګي شورا اودهغي دریاست په حق کي محفوظ پاته شي .

دمبصرینو له نظره دهماهنګي پاته دري واړه تنظیمونه دملي نجات دجبهي ددغو خبرومنلوته چمتونه ښکاري او استدلال کوي چي دسیاسي نظام دتوافق اواعلان پرته به په هیڅ نوع جنګ کي ورداخل نه شي .

ځکه چي پـه مجهول جنګ کي ورننوتل دراتلونکي امن تضمین نه کوي، کـه چیري طالبان اوشوراي هماهنګي دګډوعملیاتو په واسطه کابل فتح هم کړي اودراتلونکي سیاسي نظام په هکله د مخکي څخه توافقاتو صورت نه وي نیولي نو کابل به بیا دیوه بل جنګ شاهد ګرځي، اوموږنه غواړو چي خپل نسلونه پـه تباه کوونکو جنګونوکي دلاسه ورکړو.

دهماهنګي دشورا اوملي نجات دجبهي ترمنځ داختلاف اصلي عامل دغه نقاط دي . خوددواړو دمواقفو اوپه خپلو مواقفو ټینګار ددي ښکاروندوي دي چي ممکن دغه دواړه جهتونه ډیرژرلکه ځنګه چي توقع کیږي رایوځاي نه شي .

دهماهنګي شورا پاته دري تنظیمونه چي نظامي اوسیاسي قوتونه دي باید تراخري وخته پوري هڅه وکړي چي دملي نجات جبهه دلاسه ورنکړي خوپه عین وخت کي په خپل اصولي موقف باندي هم ټینګ ودریږي - ددي ترڅنګ که چیري دملي نجات جبهه دیراحي تګ په تصمیم کي کلکه وي نوباید چي دهماهنګي دشورا دپاته تنظیمونو اودملي نجات دجبهي ترمنځ دتعاون اوملاتړ روحیه تازه وساتله شي - همداراز دهماهنګي شورا او ملي نجات جبهه باید تراخرین وخته پوري هڅه وکړي چي په خپلو منځوکي دتفاهم کړي فعاله وساتي ، په اخلاص یودبل ترڅنګ ودریږي ، هیڅ ډول سیاسي اونظامي معامله دنورو څخه پټه نکړي، اولکه دپخوا په څیرپه ټولو سیاسي اونظامي معاملاتوکي په یوه خوله خبري وکړي . څیرپه دي کي دي چي دشورا داپاته شیرازه دتشتت څخه وساتل شي اودښمن ئي په مختلفوحیلواوبهانوتارومارنکړي .

پیوسته به گذشته

ابلاغ یگانه راه اصلاح پایداروناگسستنی (۷)

انقلاب حقیقی و بنیادی بدون انقلاب در فکر و اندیشه ممکن نیست

درانتخابات سال ۱۹۷۰ که این سازمان به قیادت ورهبري مولانا مودودي (رح) باکاربند بودن روي اصول وچارچوبۀ اخلاقي خویش اشتراك نمودباوجوداینکه درسراسرکشور فقط چهارکرسي بدست آورواعتباروحیثیت اخلاقي اش مجروح نگردید وبحیث یگانه تهدیدوچلنج بزرگ در دوران پنجم ونیم سال حزب حاکم که بااستفاده ازطرق وشیوه هاي فرتوت آمرانه و دکتاتورمنشانه اکثریت کرسي هارابدست آورد . درانتخابات برنده شده بود ، عرض اندام کرد . لاکن درین دوران اثرات شکست روانې درانتخابات کارخودرامیکرد تابالاخره درانتخابات سال ۱۹۹۳ این سازمان هم مشابه به سازمان هاي عام سیاسي مجهزبه حربه ها، تدابیروشیوه هاي مصنوعي وارد میدان کارزار، مبارزات انتخاباتي شد و تا حد زیادي ازهمان خوبي هاوبرازندگي هایش را ازدست داده بودکه قبلاً آن رابحیث یك سازمان اصولي واساسي معرفي مي کرد .

ازنظرماجماعت اسلامي بخاطري به چنین وضعیتي دچار گردید که قبل ازتقسیم نیم قاره هند به دو کشورمستقل هند وپاکستان، درباب اصلاح جامعه بوسیله ابلاغ عام کاملاً مطمئن بود وباقاطعیت برآن کاربندي داشت ، لاکن بعدازتشکیل پاکستان جماعت دررابطه به قیام وتشکیل حکومت اسلامي یك راه دیگرهم سراغ کرد که آن راکوتاه ومختصر تصورنموده فیصله کردکه به آزمایش قراردهد. مولانا مـودودي (رح) این دوطریق را چنین توضیح مي کند : «بوضوح باید بدانید که اکنون براي قیام وتاسیس نظام اسلامي صرف پیش گرفتن دوراه وطریق ممکن است . یکي اینکه کسانیکه زمام اموررابدست گرفتند درباب اسلام به حدي اخلاص نشان دهند وبه وعده هاییکه به ملت خویش داده چنان صداقت بکاربرند که عدم اهلیت وکارداني خویش رادررابطه به قیام وتأسیس حکومت اسلامي خـود احساس کرده وباکمال دیانتداري این حقیقت را قبول کنند کـه بعدازحصـول وبدست آوردن پاکستان دیگر وظیفه و مسـؤولیت آنهاپایان یافته است و اکنون پیاده کردن حکومت ونظام اسلامي کارکسانیست که اهلیت وصلاحیت آن راداشته باشند .درینصورت شیوۀ معقول اینست که اولاً اسامبله قانون سازمان همان امور بنیادي واساسي را اعلان کنند که براي تبدیلي یك نظام وسیستم غیراسلامي به یك نظام وسیستم اسلامي اصولاً ضروري مي باشد سپس آنها علما ودانشمنداني راکه درباب علوم اسلامي مهارت داشته باشند درکار قانون سازي شریك نموده وبه کمك آنهایك قانون وآئین موزون ومناسب ترتیب دهند . بعدانتخابات صورت گیردوبه ملت موقع داده شودکه آنها براي پیشبرد زمام اموركساني را برگزینند که ازنظر شان درباب تعمیروتشکیل نظام اسلامي اهلترین افراد باشند .

به این ترتیب به طرق خیلي درست ومردمي آزادانه زمام امور به سهولت بدست افراد اهل وصالح قرارمي گیرد که آنهاباستفاده ازنیرو وامکانات حکومت همه نظام زندگي رابراساس رهنمودهاي اسلام درست خواهند نمود .

طریق دوم اینست که جامعه ازاساس وریشه اش اصلاح گردد ، درین رابطه سعي وتلاش صورت گیرد وبوسیلۀ یك حرکت وجنبش عمومي اصلاحي درآن شعوروارادۀ خالص اسلامي بتدریج تاحدي رشد ونموداده شودکه چون به پختگي رسید درنتیجه آن خودبخود یك نظام وسیستم اسلامي بوجو بیاید .

> گذشت زمان ثابت کرد که مولانا مودودي (رح) راهي را که آسانترین وقریب ترین راه تصور کرده بود واقعاً چنین نبود ، کامیابي هایي که سازمان اسلامي بعداز تقریباً نیم قرن مبارزه روي این خطوط به آن دست یافت صرفاً این بود که چند کرسي درمجلس اسامبله بدست آرد وچند بند غیرعملي وغیر مؤثر اسلامي در آئین وقانون کشور شامل گردد ، در حالیکه جامعه سراپا از خوف خدا وفکرمندي آخرت عاري گردیده چشم بسته بطرف بي حیایي ، فحشا ومادیت بسرعت درحرکت مي باشد.

اکنون ماشیوه اول را درآزمایش گذاشته ایم ، اگر درین آزمایش به کامیابي وموفقیتي نایل گردیدیم به این معني خواهدبودکه مساعي وقرباني هایي راکه ملت مابخاطر قیام وتشکیل پاکستان بخرج داده بودند به ثمرنشست ودرپاداش آن سهل ترین وقریب ترین راه براي نیل به مقصد العین تشکیل وتاسیس نظام اسلامي بدست مان افتاد- لاکن اگرخدا نخواسته مادرین آزمایش ناکام شدیم وموفقیتي بدست نیاوردیم ... پس .... درینصورت ماشیوه دومي راپیش گرفته مطابق آن کارخواهیم کرد . طوریکه قبل ازتشکیل پاکستان به آن کاربند بودیم » (اسلامي ریاست)

گذشت زمان ثابت کرد کـه مولانا مودودي (رح) راهي راکه آسانترین وقریب ترین راه تصورکرده بود واقعاً چنین نبود، کامیابي هاییکه سازمان اسلامي بعدازتقریباً نیم قرن مبارزه روي این خطوط به آن دست یافت صرفاً این بودکه چندکرسي درمجلس اسامبله بدست آرد و چندبند غیرعملي وغیرمؤثر اسلامي درآئین وقانون کشورشامل گردد، درحالیکه جامعه سراپا از خوف خدا و فکرمندي آخرت عاري گردیده چشم بسته بطـرف بي حیـابي، فحشا، ومادیت بسرعت درحرکت مي باشد .

مزاحمت واصطکاك عناصر مذهبي [illegible] ازبین رفته است،سازمان اسلامي خودازیکطرف درهرسطح دچارانحطاط اخلاقي دیده مي شود وازطرف دیگر بنابر شیوه وطرزالعمل وضع کردۀ خویش تمام توجهات ومساعي اش درمملکت خود ودرجامعه مسلمانان محدود ومحصورگردیده است .

شیوه اینکه تاش علمبرداري خیروفلاح همه انسانیت اورا منحرفنمودۀ درسراسر دنیا اورا فقط وفقط وکیل مدافع منافع مسلمانان جلوگرفتوده است .

لهذا اکنون ضرورت اینست که سازمان هاي اسلامي دوباره به همان طریق وشیوه ئي کاربند شوند که شیوه اصلي واساسي آنهاراتشکیل میداد آن راکه مولانامودودي (رح) به الفاظ «جامعه رابابد ازریشه واساس اصلاح کرد » تعبیرمي کند، وبجاي محدود ومحصور شدن درچارچوبه دفاع ازحقوق ومنافع امت اسلامي بحیث علمبرداران فلاح ونجات همه انسانیت بپاخیزند ودنیاي پیشرفته ومترقي رابطورخصوصي طرف خطاب خویش قرار دهند ، زیرا بدون اصلاح این سرچشمه هاي جهاني افکار، نظریات، تمایلات وگرایش هاراهي براي اصلاح وجود ندارد . جماعت اسلامي درآغازکاملاً درست همین شیوه راپیش گرفته بود وامروز علت تمام اضطراب وپریشاني هایش هم صرف همین است که این شیوه راترك کرده خویشتن را درچارچوب مسایل محیطي محدود ومحصورنموده است .

این شیوه ازشیوه هاي گروه هاي تبلیغي مروج کاملاً مختلف است زیرا این گروه ها عموماً تصورناقص ومحدودي ازدین پیش مي کـنند وآن رادردایرۀ زندگي انفرادي خلاصه مي نمایند، درحالیکه مسوولیت اصلي سازمان هاي اسلامي اینست که به تمام انسانیت گوشزد نمایندکه چگـونه میتوان تمام مسایل انفرادي و اجتـماعي زندگي انساني رادرروشني هدایت الهي حل کرد به عبارت دیگر درروشني هدایت الهي چنان یك برنامه وسیستم جامع وعملي ئي به جهانیان عرضه نمایندکه بوسیله آن تمام مسایل انفرادي واجتماعي زندگي انساني بخوبي وبدرستي حل گردد . درین رابطه ان شاء الله دربحث آینده گفتگویي خواهیم داشت .

ترجمه : وحدتیار

خواږه ترخه

الاخوان المسلمون يوځل بيا دامتحانونو په بټۍ کي

ذبیح الله "شرر" — لمړۍ برخه

دعوت اوابتلاء داسي دي لکه خوراو وروو نوځوک چي دخداي (ج) لاري ته په رښتیاخلك رابولي هغه به خامخا له ابتلاء اوامتحان سره مخ کیږي . دهمدي الهي سنتوله مخي له هرچانه زیات انبیاء کرام علیهم السلام دخداي (ج) په لارکي ځورول شوي اوان چي ځیني انبیاء علیهم السلام په ارواره شوي خودعوت ئي ته دي پرېښودي . دپیغمبرانوعلیهم السلام ابتلاء دنورو داعیانوپه نسبت ځکه زیاته اوسخته وه چي یوخوهغوي دالله پیغام لکه څنګه چي وهغسي ئي خلکوته رساوه اوهیڅ دنیوي ترغیب اوترهیب ددغه مسئولیت دادا کولو نه منع کولاي نشول ، بله داچي ابتلاء دهغوي دایماني قوت، عزم، حوصلي اولوړي درجي په تناسب راتلله چي دنورو داعیانو لپاره هم ترابده سرمشق وي . له انبیاء کرامو نه راپه دېخوا چي هرچاپه صدق اواخلاص تیکي ته پلته ورکړي اوله بدیو ئي منع کړي په یوډول نه یوډول شکنجه شوي، بندیان شوي، ترور شوي اوپه دارځړول شوي دي .

دافغانستان اسلامي تحریك پیل هم له ابتلاء سره ملګري ؤ . زندان اوزولني وورسره سمي ملګري وي، محرومیتونه ، تبعیدونه ، هجرتونه اوشهادتونه ددي تحریك سرمایه وه چاچي به سرپه تلي کي نیولي و، هغه به ورته زړه ښه کاوه . دابیله خبره ده چي زمونږ تحریك اوپاتحریکیان ناځاپه دنازاونعمت غیږي ته ولویدل، موټري شوي، بنګلي شوي ،چوکي شوي، دخارج سفرونه شول او ...

زمونږ له استثناء نه پرته نورتول معاصراسلامي تحریکونه له سختو کړاوونو سره مخ دي چي یومهم تحریك ئي دنورو اسلامي تحریکونو بنسټ اېښودونکي او بالارښود دمصردالاخوان المسلمون تحریك دي چي پخپل اوپاکلن ځلانده تاریخ کي ئي په برله پسي توګه قرباني ورکړي اوپرلږوخت به داسي پري تېرشوي وي چي دظالمو حاکمانو له لاسه ئي یوه شیبه په کرار تیره کړي وي . ددوي دامتحان پیل هغه وخت وشو چي دالاخوان المسلمون مجاهدینوپه فلسطین کي دانګریزانو اویهودو په مقابل کي په جهاد شروع وکړه اودهغوي لښکروته ئي په ړناورڅ داستان ستوري ورونښودل . په داسي حال کي چي یهودو دانګریزانو په مستقیم کومك اودملګرو ملتونو دظالمانه فیصلي په ملاتړ (چي فلسطین ئي دیهودو اوفلسطینیانو په مینځ کي تقسیماوه) دجنګ میدان ته راوتلي و او دعربي ملکونوماتوګړو پوځونو ئي مخه تشوه نیولاي، په همدغه حال کي دالاخوان المسلمون دپوځي ځانګي تکړه اوروزل شوي مجاهدین دجهاد اوشهادت په مینه مست دیهودو مخي له ورغلل، دهغوي په ورتګ روحیه بایللي عربي پوځونه هم راوپاریدل اودیهودو ډېرکلك سنګرونه فتح شول چي یوه ډېره مشهوره جګړه د ١٩٤٨ م کال په جنګ کي دد ٨٦ غونډي» په نامه دیهودو دکلکي مورچي نیول و . په دي جنګ کي دمصري پوځ ۳ زره عسکرو په دغه غونډي کي په مورچه بندو یهودوحمله وکړه حملي دري ورځي اوږدي شوي خوخه نتیجه ئي ورنکړه ځکه خوقوماندان دحملي دودرولو امروکړاودااخوانیانوله قرارګاه ته ئي مرسته وغوښته ، هغوي پنځوس مجاهدین وروليږل چي مصري پوځ ئي په لیدلوناري کیږي . « هغه دي دخداي (ج) لښکري راغلي » مجاهدین مخکي اومصري پوځ ئي ترشادتکبیر له ناروسره په یهودو وروختل، دسامري بجود الله اکبر شول چي نژدي دي فلسطین دهغوي له لاسه ووځي اوعرب ئي لیدل چي داخوانیانوپه جهادي لیکوکي دفلسطین دخاوري دمکملي آزادي لپاره ولي ولي راروان دي نوئي دخپل مکراوخېټ نه کاروانخست اودمصر پادشاه ملك فاروق دمقابلي توان نه درلود اوله خپلو موروچلوتنبتېدل . همدارنګه چي کله مصري پوځ «دفالوجه» په منطقه کي ځومباشتي محاصـره شو نوهغوي ته دکومك رسولو لپاره بـل هیڅوك پیدا نشول پرته داخواني فدایانو نه چي په اوښانوبه ئي مهمات اوخوراکي مهمات اوخوړکي مواد ور رسول .

اوچي یهود او انګریزان په دي پوه ته ئي داسي وښودله چي داخوانیانو پوځي قوت ستاد تخت لپاره خطردي اودوي غواړي چي حکومت په زور ونیسي . هغو ظالمانو دانګریزانو شیطاني ومنله او ناڅاپه اخوانیـان پـه خپلو مرکزونو اوقرارګاه، ګانو کي دهغه پوځ له لوري محاصره شول چي ترپرونه وورسره اوږه په اوږه جنګیدلي ؤ. پوځ له هغوي نه غونښتل چي وسله په زمکه کیږدي . او دخداي (ج) دلاري مجاهدین دجهاد له میدان نه په ولچك اوزولنوکي زندانونوته وسپارل شول . دالاخوان المسلمون تنظیم غیرقانوني اعلان شو، غړي ئي ونیول شول اومالونه ئي مصادره شول .یواځي امام حسن البناء ئي پرېښود چي دترور دخاتانه اوله ظلم نه ډک دسیسي عملي مثال وګرځېد .

سره له دي چي امام حسن البناء دوخت حکومت ته خبرداري ورکړ چي که په اخوانیانو دظلم اوځورونه لاس وانخلي نوداخواني زلمو دهراحساساتي عکس العمل مسئولیت به پخپله دحکومت په غاړه وي، مګرحکومت له خپل ستم نه لاس وانه خیست . نو دالاخوان دري زلمیانو دصدراعظم نقراشي دوژلو پلان جوړ اودپولیسو صاحب منصبانو په جامه کي ئي نقراشي ترورکړ.

سره له دي چي داکاردامام حسن البناء له اجازي اوخوښي پرته شوي و خو دنقراشي په ځاي راغلي صدراعظم ابراهیم عبدالهادي دانتقام لارغوره کړه اود١٩٤٩ م کال دفبروري په دولسم مابنام په داسي حال کي چي امام حسن البناء دمسلمانوځوانانو له مرکـز نه راوتلو دخراوشا لاروکوځوځراغونه مړه شول، په یوټیکسي موټرکي له کښیناستوسره سم یونامرده خائن راغي اوخپله تویانچه ئي دامام په پاك وجود کي تشه کړه .

سره له دي چي امام حسن البناء سخت ټپي شوي و خوله موټرنه راکوزشو اودهغه موټر نمبرئي واخست چي قاتل پکي دتېښتي په حال کي و، شفاخانې ته ئي هم پخپله تیلفون وکړاوبیا په زمکه ولوید ددي خبري ډېرامکان وچي په شفاخانه کي ئي علاج شوي واي خوملك فاروق امرکړي و چي ځوك ئي علاج ونکړي، ډاکتران له ویره هغه ته نه ورنژدي کېدل اودهغه له وجود نه ځاځکي ځاځکي وینې تویي شوي اوروح ئي خپل خداي (ج) ته وسپاره.

دادالاخوان المسلمون ددعوت په تاریخ کي دابتلاء شروع وه ، دهغه سپي جنازه چي خپروته به ئي تیم میلیون مصریان کښیناستل ، دهغه دکورتور سرو اوږه ورکړه اوخاورو ته ئي وسپارله . په هغه ورځ په قاهـره کي په ګرځیدو بندیز لګېدلي و او اخوانیانو دزندان دپنجرو شاته دخپل شهید مرشد ماتم کاوه .

په هغه شپه دملك فاروق په قصرکي دشراب‌اوکباب محفل ګرم و، ملك اپله اوس خپل تخت ټینګ لیده اوهلته په غرب کي نصاراووهم اتهونه کول، هغوي ځان دشرق له ټولو خطرناکه اوسترشخصیت له مخ لیري کړي و.

جهان ورزش

متصدی : تنویر

ایتالیا قهرمان والیبال درجهان شد

توکیو : ایتالیا لقب قهرمانی والیبال جهانی را با شکست تیم امریکادر آخرین روند اول مسابقات بدست آورد.

ایتالوی ها درهمین چانس مسابقه امریکا را ١٥ - ٨ ، ١٥ - ٥ و ١٥ - ٤ مغلوب ساخته وبرای بارسوم لقب قهرمانی جهان را کسب کردند .

جولیو ویلاسکو Julio Velasco مربی تیم والیبال ایتالیا به خبرنگاران گفت: این قهرمانی خیلی مهم بود زیرا که مابدون هیچ باختی توانستیم این مقام را بدست آوریم ،در حالیکه یك تیم صرف در

انتخابات نیمه فاینل باخت هایی داشته میباشد ، واین مطلب حاکی از قوت تیم ماست ولی نه به آن معنیکه ما قهرمانی را تضمین مینمایم بلکه امید زیادی برای مسابقات اتلانتا Atlanta خواهد بود.

زمانیکه من مربی این تیم درسال ١٩٨٩ شدم ، بازیکنان تیم انتخاب شده ازتیم های سراسر ایتالیا بود ولی منظم نبودند .

کپتان تیم ایتالیا اندریا گردینی Andrea Gardini اظهارداشت " " اکنون که ما قهرمانی جهان رابدست آوردیم، سعی خواهیم نمود درمسابقات اتلانتا مدال های طلایی را نیز کسب کنیم . "

